ننګيالی بخرکی،

# لويه جرګه پايته ورسيدل، خو لاسته راوړنه يې نه لرل

زموږ په ګران افغانستان کې لويه جرګه هم د نورو دودونو په څير تار يخي ارزښت لري. او موږ لکه په نورو دودونو چي فخر کوو، په همدغه لويه جرګه هم وياړو، چي د تاريخ په اوږدو کې، د افغانانو ډيري پيچلي پېښي ور آسانه کړي دي. نوموړې جرګه د يوې عنعني په توګه موږ ته په دوديزه ډول را پاته ده او موږ يې وپريکړو ته داسي درناوی کوو لکه د هيواد قانون، ملي ګټي او د خاوري تماميت ته چي احترام لرو همدغسي د خپلو مشرانو پريکړو او تصميمونوته درناوی کيږي.

زه دلته نه غواړم چي د جرګو پر کرونولوژی بحث وکړم. يوازي په اوسني پيرکي د نومبر د ۱۶ نيټي د ۲۰۱۱م کال پر لويه جرګه غواړم خپل نظر د هيوادوالو سره شريک کړم. د همدغه کال د نومبر د ۱۶ نيټي لويه جرګه اصلاً د افغانستان د دولت د تنظيمي او مصلحتي ګوندونو يو غټ مجلس وو، دا ځکه چي په دې مجلس کي د دولت هغه کسان سره راټول سوي وه چي په خپلو منځو کې ګډې ګټي درلودلې. او د همدغه ګډو ګټو پر بنسټ يې د خلکو د پام اړولو په مقصد همدغه سورنا او ډول وټکاوه،ترڅو د خلکو پام د نورو اعمالو څخه راوګرځي او د تمرکز قوای دماغي اصل يا (د خلکو پاملرنه اړول وبل لوري ته)، چي دا په سياست او دولتداری کې يو خطا ايستوونکی اصل دی. نوموړی اصل تطبيق کړي. دلته هغه کسان سره راټول سوي وه، چي د مصلحتي ګوندونو استازي، لرغوني جنګسالاران، د دولت لوړپوړي چارواکي، د ملي شورا غړي، د مشرانو د مجلس غړي،د ولايتونو واليان خارجي ډيپلوماتان او په لږ تعداد ملي شخصيتونه او بېطرفه شخصيتونه هم وه.

په نوموړي مجلس ۱۰۰۰۰۰۰۰لس ميلونه ډالره ولګيدل. چي نوموړی رقم په دغه غريب ملک کې ډيري پيسي دي. خو دا چي نوموړي پيسي څه ډول مصرف سوي دي په دې نه پوهيږم، خو دومره پوهيږم چي دغه پيسي بايد په ډير ښه ډول د خلکو پر عمومي ضرورتونو مصرف سوي وای، په خاصه توګه چي ډير سخت ژمی راروان دی او خلک د عمومي تشويش سره مخامخ دي. که څه هم په اوسنيو شرايطو کې دغسي ډير بې ځايه لګښتونه کيږي، خو دلته سوال دلګښت او يا مصرف نه دی؛ بلکي د لويی جرګې پر دندودی.

تر اوسه چي لوئي جرګې جوړي سوي دي هغه زموږ په تاريخ کي لوی دندي سرته رسولي دي، که د لرغونو آريايانو څخه يې راوا خلو بيا د هوتکو په پير او دوران کې د ۱۷۰۷م کال د ميرويس نيکه د کوکران لويه جرګه چي ګورګين يې مرکړ. او خاوره يې د

کورګین د ظلمه څخه خلاصه کړه، د احمدشاه بابا د شیر سرخ لویه جرګه چي احمدشاه بابا په لنګوټه کې مذهبي مشرپیر صابرشاه د جرګې د پریکړي سره سم د غنمو وږی وروټنومبه او احمد شاه بابا پاچا سو. د هغه راورسته د امیرعبدالرحمان خان او امیر امان الله خان د وخت لویه جرګه چي په پغمان کې جوړه سوه او د هیواد بشپړه آزا دي یې اعلا کړه. تر هغه وروسته نوري لوی او وړې جرګې چي په هیواد کې د ملي ګټو پر بنسټ جوړي سوې دي. په هغو جرګو کې تر هر څه مخکي د جرګې د جوړیدو استراتیژي روښانه او د وخت د ستونزو دپاره د حل لاري چاري لټول کیدې.

خو نن ورځ چي په هیواد کې ستره غمیزه روانه ده او هیواد دیو لړ ستونزو سره مخامخ دی، د ستونزي پر اصلي او ټا کونکي موضوع نه خبري کیږي او نه هم دحل اصلي لاري لټول کیږي. بلکي؛ پر هغه څه خبري و سوې کوم چي بیله دغه غټ مجلس(لوی عنعنوی جرګې)څخه هم کیدای سوای چي نوموړې موضوع په یوه پیشنهادي توګه ونا ټواو مسؤلو کسانو ته وړاندي سوې وای ، چي یا په تورشپه کي بمبار دمان مه کوی او یا هم زموږ دخاوري څخه پرنور وهیوادو تعرض مه کوی، یا هم ملکي ځایونه مه په نخښه کوی.

د نومبر د۱۶نیټې دغونډي درې موضوعګاني ډیري مهمي او دنوموړي مجلس ( لویه جرګه) بنسټیزي مو ضوعو ګاني وې .

لومړی: په افغانستان کي دناټود قواودایمي شتون او دستراتیژیکو نقطو څخه ګټه اخیستل .

دوهم: دافغانستان ملي حاکمیت ته په در نه سترګه کتل .

دریم:ملي اردو روزل او په مځکنیواو هوای وسلو سمبالول.

اوس به راسولومړئ موضوع ته :افغانستان دتار یخ په اوږ دو کي یو آزاد او بې طرفه هیواد وو. افغانان غواړي چي خپله همدغه آزادي او بې طرفي وساتي ، په همدغه منظور دغه ۳۳ کاله جنګ روان دی. نن ور ځ دخارجي قواوموجودیت نه یوازي دافغانستان استقلال ترخطرلاندي را وستلی دی بلکي؛ دهمسا یه هیوادو دپارهم دتشویش سبب سوی دی.نوپه دې چي نوموړی تشویش په بنسټ کي حل کړل سي،با ید یوه همیشنئ چاره وسنجول سي نودکړاونو پر هغه اصلي انګیزه باید خبري وه کړو، نه داچي  پر علت خبري و کړو، ولي هغه څه چي تر علت مخکي را منحته کیږي هغه انګیزه او پر انګیزو با ید وږغیږو او د حل دپاره یې لاري لیکي پیدا کړو.

زه فکر کوم چي په افغانستان کې دجنګ انګیزه همدغه دنا ټو دقواو شتون دی.نو که دنا ټو قواوي په افغانستان کي دجنګ انګیزه وي ، اود افغانستان همسایه هیوادونه او دامنیت

دشورا دايمي غړي لکه روس او چين ته دا يو جدی خطر وي نو بيا دافغانستان ستونزه يوه نړيواله ستونزه و بولو او نوموړې ستونزه با يد په نړۍ واله کچه حل کړل سي.

او پر نظامي شتون دامريکائي قواوبايد يو نړيوال کنفرانس جوړکړل سي.نو دامنيت دشورا دايمي غړي لومړی بايد دافغانستان په باب يوې پايلي ته سره ور سيږي. اوبيا همسايه هيوادونه هم په دې ډاډ من سي ، چي دافغانستان دلوري ودوی ته خطرمتوجه نه دی.اودهمسايه هيوادونوڅخه نه داچي( دنه لاس وهني) تضمين وا خيستل سي.بلکي؛ په ډ يرجدي ډول بايد څاراو نظارت يې هم وسي ، چي دپلي يا ليکي د هغه غاړي څخه نظامي عمليات بند سي.

خو که څه هم دبن په لومړي کنفرانس کې نړيوالوپردې پريکړه هم کړې وه چي په افغانستان کي به دا يمي سوله را وستل کيږي. او هغه خطر چي دنويړاله تروريزم د خوا يا القاعده دخوا څخه په افغانستان کي نړيوالو ته متوجه دی ، هغه ته به دپای ټکی ايښوول کيږي.اوافغانستان به ديوه نړيوال نوي افغانستان په شان دنړيوالي ټولني غړيتوب ترلاسه کوي، خوداسي ونه سوه؛بلکي برعکس تر وريزم خپلي پايې نوری هم ټينګی کړې،امنيت تر لومړيو کلونو نورهم په مراتبوډير خراب سو،ولسونودطالبانو ملاتړوکړاو تر ۹۰فيصده ډيره سيمه دمخالفينو په ولکه کي ده، دهيواد لوی لاري دمخالفينو په واک کې دي. اوپراکمالاتي لارو ددولت ټانکونه لا هم په مسؤنيت کي نه دي.حتا دکابل او شمالي ولايتونوامنيت چي تر ډيره وخته مسؤن وو ،هغه هم اوس دګواښ سره مخا مخ دی.نو دناټو په موجوديت کي دهيواد ملي حاکميت مسؤن نه سو بلکي ديوه نوي نړيوال جنګ سره مخامخ سو.او دورځي په اوسط ډول تر ۲۰زيات کسان دهيواد په ګوټ، ګوټ کې مري او شهيدان کيږي.داځکه چي موږ په دغه لس کاله کي دناټو په موجوديت کي ملي اردو او ملي پوليس پيدا نه کړه او نه هم وروزل سوه.شپږ ميا شتي کيږي ، چي دپا کستان دلوري پرافغانستان با ندي تر شپږزره ډيررا کيټونه راغلي دي،دکنړغيرتمندخلک ددې غميزي قربانيان دي، خوددې بې صا حبه هيواد ږغ څوک نه اوري، نودناټو دقواوشتون به څه وي؟

دوهم: دافغانستان ملی حاکميت ته په در نه سترګه کتل :

که څه هم دلوی جرګي هغه بنسټيزه موضوع چي با يد ډيرټينګار پر سوی وای يوهم ملي حاکميت ته په در نه سترګه کتل وه،دنا ټو دخوا څخه هميشه پرملي حاکميت با ندي تيری ددې سبب سوی دي چي زموږ با غيرته ولس يې ځوروليی اودخپلوملي ګټوپه خا طرې دځان د د فاع بريدونوته چمتوکړی دی. اوپه ډيره بيرحمانه توګه دشپې اوورځي دنا ټوتربمباردمانونو لاندي مر ګوني شپې او ورځي سبا کوي، دکورونو تلاښي يې په داسي

حال کي اخیستل کيږي، چي دهغوی ونوامیسو ، کلتور او عزت ته هیڅ ارزښت هم نه ور کول کيږي.

دغه لس کاله دولتي چارواکي په چغو،چغو نارې وهي ، چي د کورونوتلاشي دي ودريږي او دافغاني ځواکونو په صلاح او مشوره دي پسله ډيرعمیق تحلیل څخه داسنادو پربنسټ ؛ هغه هم په ډیره عزت داری سره دي د محکمې دحکم سره سم دکورونو تلاشي تر سره سي،او دشپې عملیات دي بند سي ، خو نا ټواو امر یکائیان کله دملت ږغ ته غوږ نیسي. او هیڅ کله هم دښا غلي رئیس جمهور وخبرو ته غوږ نه نیسي ( نو بیا لویه جر گه، دولتي چارواکي څه تضمین کولای سي چي پسله دغه لوی جر گې دي نا ټو ودې پریکړو ته ارزښت ور کړي.)همدغسي زموږ دخاوري څخه دبې پیلوټه الوتکو په ذریعه دپا کستان پر خاوره په داسي حال کې بمباردمانونه کوي ، چي دپا کستان دولت په چیغو، چیغو نارې وهي چي زموږ ملي حاکمیت دخطره سره مخامخ دی. خو نا ټو غوږ نه پرې نیسي او نه ملي حا کمیت ته ارزښت ور کوي.نو ایا ددایمي سترا تیژکوقواوپه دایمي شتون کي به افغانستان ددې تضمین وکولای سي ، چی نا ټو دي دایران او پا کستان دغه ملي ستونزه حل کړي؛ یا هم دامریکا ئیا نو په دایمي شتون او دایمي هډوپه پاته کیدو به دروسې ددولت اندیښنې، دسیمي سوله تر خطر او پو ښتني لاندي را نه ولي؟.نو حقیقت هم داستونزه دهمسایه هیوادو پر ځای ستونزه ده.

افغانستان خپل ځانګړني لري چي دتاریخ په اوږدوکې په همدغه لاندي ځانګړ نو پیژندل سوی دی.

۱ـ افغانستان یو آزاد هیواد دی او په را تلو نکی کي به هم وي.

۲ـ یو بې طرفه هیواد دی او وي به

۳ـ دهمزیستي مسلمت ایز داصل پلوی یا دګاونډیانو سره دښو روابطو پلوی هیواد به وو.

دریم :ملي اردوروزل او په مځکني اوهوايي وسلوسمبا لول.یو ملت هغه وخت پیا وړی کيږي ، چي غښتلی فوځ ولري ، دفوځ غښتل توب په ملي اردو کې دی ، چي په ښواو مډرن وسلو سمبال وي، خودغه اردومخکي موږ درلودله.او هغه وخت یعني دډاکټر نجیب الله په وخت کې په ۱۹۸۶م کال کي څه وخت چي دافغانستان شرقي سیمي یا جلال اباد دپاکستان تر برید لاندي را غلی دافغانستان دولت او ملي اردو غاښ ماتونکی ځواب ورکړ. په داسي حال کي چي امریکا اوغربي هیوادونه یې هم په ټوله قوت شاه ته ولاړ وه ؛ خو دافغانستان دفوځ په مقابل کي دسختي ماتي سره مخامخ سوه علت یې دا وو، چي افغانستان نوي او د دفاع وړ وسلې لکه: لوانداز ، سکاټ ، دلوناو را کیټونه اودا سي نور هوايي او ځمکني دفاعي سلاوي درلودلې،خودبده مرغه چي هغه ار دودامریکا له خوا

دامریکا په مشرتابه دای – اس – ای او دااوس پر قدرت نا ستو مجا هدینو دخوا څخه دخپل منځي جنګونو په وجه ړنګ سو او وئې نه سو ساتلای.خو بیا امریکا هوډ کړی وو، چي په افغانستان کي به نوی اردو جوړوي او افغانستان به د۱۹۷۵م کلونو په څیر غښتلی اردو ولري.په دغه لس کاله کي دامر یکا دنده دا وه ، چي افغانستان پر خپلو پښو ودروي اونن به موږ دپا کستان تررا کیتي حملو لاندي هم نه را تلای او خارجي هیوادو ته به مو د مر ستي ضرورت هم نه وای، موږ به خپله دالقاعده او ترو ریزم سره مقابله کولای سو..نن موږ خار جي هیوادو ته اړ تیا لرو او زموږ په هیواد کي نه نظامي توانمدي سته او نه وتیزه یا (اقتصادی ) توان مندي سته. څه وخت چي روسي قوتونه دافغانستان څخه ووتله، نودافغانستان اردودومره قوي وو،چي پرپاکستان یې دسکاټ دوه تو غندی ور پیر کړې چي یوه دسکاټ تو غندئ د پا کستان داټمي دستګاه وڅنګ ته په څو کیلو متری کي ولګیده او بله تو غندئ هم په اسلام اباد کې دپارلمان وخواته نژدې ولګیده، چي پسله هغه پا کستان دسولي ږغ اوهوډ وکی.څر نګه چي افغانستان په دغه لسو کلونو کي نه نظامي اونه ملکي برلاسی تر لاسه کی،دهیڅ ډول پر مختګ نخښي نښاني هم په کښي ونه لیدل سوې ، نو با ید پردغه موضوع دافغانستان خلکو یا دهمدغه لوی جرګې دلاري او یا هم دترکي د کنفرا نس دلاري خبري سوي وای یا هم په را تلونکي کې دبن په دوهم کنفرانس کې تر حه سي. خو داچي په مشورا تي لویه جرګه کې یو طرفه پیشنهادونه او پریکړي وسوې نو ددې پریکړو ګټه به څه وي؟ زما دنظره که ودې جر ګې ته دسولي غونډه ویل سوې وای او نوموړو را غونډ سو کسانوطالبا نواو مخالفینو ته دسولي ږ غ کړی وای او هغوی ته یې صا دقانه دعوت ور کړی وای دابه تردغه لوی جرګې په مراتبو هم ښه وای.او هم به یې اغیزي درلودلای.خولویه جرګه دافغانستان دخلکوپه زړونو او تاریخ کې یودهغه ارزښت ناکه عنعنو څخه ده ، کوم چي افغانان په ډیروسختوشرا یطو کي ، لویه جر ګه را بو لي. او دهیواد مسؤلیت وخلکو ته ورسپاري. نوبیا ملت پریکړه کوي او د ملت پریکړي دملت ټوله خلک عملي کوي.لویه جر ګه زموږ دقانون یوه غوره برخه ده او په قانون کي ځای لري او دقانون په ۱۱۰ ماده کي داسي یا دونه ځیني سوې ده :« لویه جر ګه دخلکو دارادې په څر ګندولو کي لوړتر ین ار ګان دی ،چي زموږ دولسوونونماینده ګي کوي.»نو دغه عنعنه با ید په ډیر ښه،عزت او امانت داری سره وساتل سي.تر څو دغه عنعنه موساتلې وي. نو با ید په استعمال کې پا ملرنه وسي . زموږ ددې خبري هدف او مقصد دادی، چي موږ په دغه لویه جر ګه کي چي په ۱۶ ـ ۱۱ – ۲۰۱۱م کال کي جوړه سوه دیوه پلوه مو عنعنوی لویه جرګه نوم ور کی ؛ خو دبله پلو مو بیا بیرته هغه خپله خبره رد کړه او د مشوراتي عنعنوی جرګې په نوم موونومول،چي دغه دوې سوژې یا اصطلاوي په خپل منځ کي یواوبل سره نفي کوي. اوډیرتوپیرسره لري ، یا به جرګه دخلکو عنعنوی جرګه وي او دخلکو په اراده سره به جوړه سوې وي ، نو بیا با ید داسي احترام ورته وسي لکه چي قانون ته احترام کیږي یا دخلکوارادواو کلتورته چي احترام

لازم دی. نو دلته بیا یوازې دمشورې په ډول جر که را بلل او دهغه پریکړې و پارلمان ته استول ،د ه رد او تا ئید دپاره ، دا دخلکو دارادې یوتوهین ، نقض او ردول دي،چي زموږ په ټوله تاریخ کې داسې جرګه نه تیره سوې او نه هم چا لیدلې ده.خو زما ددې خبرو مؤخه دانه ده چي ګوا کي ریس جمهور لویه جر ګه نه سي را بللای ؛ بلکې:ریس جمهورلویه جرګه په استراري حالت یا هغه خطرناکه حالت کي را بللای سي چي دهیواد اقتصادي ، تولنيزي او سیا سي ګټي دخطر سره مخامخ وي او داساسي قانون ۶۵مادې سره سم دا حق جمهور ریس ته ورکړل سوی دی.په نوموړې لویه جرګه کي دجرګې خلکو ته ددې حق ورنه کول سو ، چي دجرګې مشردي په ډموکراټيکه توګه انتخاب کي، یا دې منشیان دخلکو دمنځ څخه را انتخاب کي. فقط دوی په خپلو منځوکي سره وټاکل او یولړ غالمغالونه هم پردې واوریدل سوه خو چاه غوږ پرې ونه نیوی.

## نتیجه:

لومړی : زما دنظره،نوموړې جرګه ددولتي چارواکوپه غوښتنه او ګډون جوړه سوې وه ، چي مرادیې دځانونو ساتل دي دناټو دقوتونو په وسیله د طالبانو او مخا لیفنو څخه.که دنا ټو قوتونه په افغانستان کې نه وي ؛ په دې کې شک نه سته چي زموږ با غیرته ولس به هغه کسان د محکمې میز ته را کش کي کوم چي په ادري فساد، د مځکو په معافیا ، رشوت او ددولتي پوستونو څخه په ناوړه ګټه اخیستلو سره لړلي او تورن دي.

دوهم : دنا ټو دپاره دغه یو ښه وخت دی ، چي په هغو کسانو ځانونه قانوني کړي ، کوم چي ناټو هغوی ته دفساد زمینه برا بره کړېده.ستر قوتو نه دخپل خصلت له مخې پر هغه چاه تکیه کوي، کوم چي هغه غلامې قبلولای سي، خو هغه کسان چي مخور او ملي بنسټونه لري او پالي يې ، هغه ته په ښه سترګه ځکه نه ګوري، چي ددوی سره دجوال خوله نه نیسي.اوبیرته دقدرت څخه يې لیري کول هم ګران کار دی، نو ځکه پر لړلواوضعیفوکسانو تکیه کوي.

دریم : هغه پیسې چي په نوموړي جر ګه کې ولګیدې که پر بل کوم ضرورت لګیدلي وای ښه به وای.ځکه په اوسنیوشرایطوکي دافغانستان دخلکواړتیاوي ډیري دي او دافغانستان خلک و ټولنيزو همکاریو ته تر بل هر وخت ډیره اړتیا لري.خو موږ نه یوازې داوسني وخت دلوی جرګې لګښتونه بې ځایه بولو بلکې درا روان د بن ددوهم کنفرانس څخه هم تر دغه ډیر تو قوع نه لرو.

## د حل لاره: زما د نظره د افغانستان مسئله دوې برخې لري.

### لومړی:

په افغانستان کي ډيرو کسانو ، سياست پوهانو ، سياسی ګوندونو ، دوخت دولتونو اوداسی نور خارجي سيا ست پوهانواو خارجي تحليلګرانوپه دغه ديرش کالو کې خپل نظرونه په هره تار يخي مر حله کې وړاندي کړي دي ، خو يا يې خبري ځای نه دی نيولی او يا يې دخپلو ګټوپه اساس غولونکي نظريات ور کړي دي.خو زما دنظره هره پيښه ځانته هم علت لري او هم دحل لاره ، خو دلته دګټوسوال دي چي دچاه ګټي په څه کي دي،نو هغه دخپلو ګټو پر بنسټ دافغانستان مسله تحليل کړې ده . او دپيښو د مخنيولو دپاره يي نه چاره سنجولې ده او نې هم دعلت په ځای پسي قدم ور اخيستی دی.خو دنړی اخبارونه او خپروني نارې وهي چي په افغانستان کي جنګ دی او سوله دحل لاره ده دلته درسی سر ورک نه دی؛ خو ورکوي يې ،دلته غل هم نارې وهي چي مه را ګوری غله درغله او دکور خاوند هم دغه نارې وهي چي مه را ګوری غله دي. هغه اصلي غل ځان پټ او ورک کړي دی.که نه نو خبره خو رو ښانه ده ( که غوا توره ده خو شيدې سپيني دي) . موږ په او سني وخت کې ګورو چي دهغه کسانو چي په دغه لس کاله کې په ميلينو ډالره پيداکړه ، ايا مخکي ترهغه چي قدرت يې نه درلود سرمايه يې څومره وه؟ دغه سرمايه د دکومه کړه؟ معلومه خبره ده چي دافغانستان دخلکو څخه يې کالي کښلي دي، دهغوی څخه يې ډوډی غلا کړيده او دافغانستان دخلکو مال او شتمني يې لوټ کړې ده.او نور يې هم لوټوي نو دا خو يوه داخلي او کورنی ستونزه ده خو موږ يې دمخنيوی په لاره کي پاته را غلي يو؛ په داسي حال کي چي دافغانستان دولتي خپروني او دافغانستان تحليل ګران په چيغو ، چيغو نارې وهي چي دهيواد شتمني ددولتي غلو دلاسه چور سوه،ددولت مځکي ، فابريکې، دخلکوټولنيزي شتمنی خرڅي سوې ، عام خلک اوس دټولنيزو خد متونو دپاره هيڅ هم نه لري ، خو يو څو جنګسالاران بيا په بدل کې اباد سوه ، دلته که ځيني هغه کسان چي په دغه غلا کي شريک دي او په دغه نا مه سره چي موږ سرمايداري ټولنه د چوراوغلا په پيسو جوړو؛ دغه خبره غلته ده او سرمايداري ټولنه چي يو اقتصادي او اجتماعي فرمايسون دی ، دسرمايه داری جوړيدل ځانته خپل اقتصادي شرا يط او وخت غواړي،هغه دآزاد بازار او ازاد رقابت دلاري په سالمه اودرسته توګه جوړيدای سي،نه دخلکو دجيبو په لوټولوسره.او يا هم په دغه اوس وخت کي دخارجي مؤسيسو مرستي چي دافغانستان په نا مه دخارجه څخه را ځي او دخلکو په شخصي جيبو کي لويږي ايا په دې به زموږ ټولنه ښاده او اباده سي؟ تر ابده به په دغه ډول افغانستان آباد نه سي. نو دغه لس کاله تجربيه ښوي ، چي په افغانستان کي اداري فساد يوه لويه ستونزه ده ،چي ددې خوار ملت پر اوږو پرته ده، دبله پلوه په هيواد کي دځينو حلقوهغه کړني چي دژبني تعصباتو ، منطقوي توپيرونو او تعصباتو په باب دي، داهم داقتصادي ور سته پاته والي سبب سوې دی. اوزما دنظره دژبوپه با ب ملي او درست اندول په نظر کي نه نيول کيږي.

**دوهم:**

په اوسني وخت کي په افغانستان کې دجنګ اصلي موضوع دناټواو امر یکائیانو شتون دی.دافغانستان ستونزه چي هم یې په امنیت شورا کي تشویش را پیدا کړی دی.او هم یې همسایه هیوادو نو ته دسردرد ور پیدا کړی دی.نا ټو او امر یکاپیان دي .خودوی بیا ادعا لري ، چي موږ وافغانستان ته د مرستي،بیاابادولو،ډیموکراسۍ دپولي کولو،دالقاعده، تروریزم اومخدره موادو دقاچاق دله منځه وړلو په منظور افغانستان ته را غلي او په دې لاره کي مر سته کوو.او دبن په لومړي کنفرانس کې دغه هوډاو پریکړه هم وسوه. خواوس دبن دکنفرانس لس (١٠) کاله کیږي، چي دافغانانو په ژوند کي دپام وړ بهبود هم نه دی را غلی او حتا دافغانستان ستونزي نوري هم دهغه وخت په پرتله ډیري سوي دي کوم چي افغانستان په ١٩٧٥م کال یاهم تر دې ور سته دنجیب دحکومت تر اخیره پوري یې ژوند کاوه،دا ځکه چي په هغه وخت کي روغتیا ئي خدمتونه په وړیا توګه تر سره کیده، ښوونځی او لوړ تحصیلات ،کوپون ، کار او داسي نور خدمتونه په ټولنیز ډول سره تر سره کیده.خو موږ وینو چي نن ورځ په کابل کي په ښارینو کي لا هم بریښنا نه سته سړ کان خراب دي او ولایت خولا پریږده.خو دناټو او امر یکا ئیانو را تګ افغانستان ته جنګ را ړی لیکن خاموشه یې نه کی، نو په همدغه خاطر دیادولو وړ یې بولم چي ، نا ټو او امر یکا ئیان با ید پر خپلو کړنو دسره نوی علمي او عملي نظر وکړي.

زما دنظره نا ټو اوامریکائیان با ید لومړی په افغانستان کي دولتي را هبری ته تغیرورکي اوهغه کسانو چي هرنوع خیانت یې په دغه لس کاله کي دافغانانو سره کړی دی هغه با ید محکمه سي . او یوه نوې سالمه راهبري باید را منځته سي، چي دافغانانو دباوروړوي.او په همدغه ډول با ید یونړیواله کنفرانس را وبلل سي ، چې په هغه کي دافغانستان دخلکو رښتیني نما ینده ګان،روحانین، دلوړو زده کړو خاوندان او هغه کسان چي لاسونه یې په وینو نوي لړلي اوپه مذهبی فرقیزه جنګو کې برخه نه وي اخیستي، درشوت او خیانت ټاپه نه وي پر وهل سوې.نو بیا هم ددغسي نما ینده ګانو په ګډون یو نړیوال کنفرانس دافغانستان دمسئلې دحل دپاره را وبلل سی ، چي دامنیت شورا دایمي غړي + همسا یه هیوادونه + هغه اهل افغانان چي په پورته ډول یا دونه ځیني وسوه دملي وحدت پر بنسټ سره رټول سي ، تیر مخالفتونه هیر کړي او دافغانستان دبیا ابادولو دپاره خدمت او عملي کار وکي او دا ټولنه نورددغه غمیزی څخه خلاصه کي.هم دغسي دبهر نیانو سره دملي ګټو پر بنسټ ددواړو ملتونودګټو دساتلو پر بنسټ دوستي حتا وررولي وکي ، داځکه چي بیله نړیواله همکار موږ په تجرید ډول دغه ټولنه نه سو جوړولای.

ولي؛ که موږ نړیوال هم خطا باسو او خپل خلک هم خطا باسودونیا ته دا ور ښکاره کړو چي موږ دخلکو استازي یو،ریس جمهورپه یو یا دوه کیلو متری کې په هلیکپتر کي دارګ څخه د لوی جر ګې تر تالاره را ځي ،خو په موټر کي نه سي راتلای، نو دا بیا دخلکو استازی نه بلل کیږي.او نوموړی دولت هم نه دخلکو نما ینده دولت نه دی او نه دخلکو په

را یه دغه دولت جوړ سوی دی. او علت یې دا هم دی چې دغه لویه جرګه او نور کنفرا نسونه ناکامه او پایله یې بې نتیجې را وزي او هیڅ لاسته را وړنه نوموړي لوی جرګې نه درلودله.

www.ayenda.org